مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال

۲۰۲۴/۰۱/۲۶

# ښاغلی جنرال عاصِم مُنیر

روغ اوسې!
خبر شوم، چې نن یا پرون دې ویلي: « د یوه پاکیستاني له خوندیتوب څخه ټول افغانستان ځاروي»؟!
د یوه پوځمشر لپاره دا د ملتپالنې د یو اکټ په توګه ښه خبره ده، خو په خواشینۍ، چې رېښتیا نه ده.
د خپل هېواد تاریخ دې لوستی؟
خامخا به دې لوستی وي. ما اورېدلي، چې تاسو ته د «مطالعهٔ پاکیستان» په نامه یو متن تدریسېږي، چې سر ترپایه دروغ دی. ښایي ځکه دې داسې درواغجنه دعوه کړې ده.
اول خو دا سپینه کړه، چې ته «پاکیستاني وګړی» چا ته وایې، دا تعریفولای شې؟
که یوازې «پنجابي او بیا د اقتصادي ګټو لپاره سېندي» ښیې، نو درواغ به دې درواغ وي، خو ښکر به نه لري، ځکه موږ خو چې وینو تاسو هره ورځ پرېمانه پښتانه و بلوڅان وژنئ. د دوی وینه کوم ارزښت نه لري، که دوی پاکیستانیان نه ګڼئ؟
په ۱۹۹۷ کې مو ایمل کاسي (میر ایمل کانسي) په څو روپۍ خرڅ کړ؟
اورېدلي مې دي، چې کوم امریکایي چارواکي خپلو مامورینو ته په غوسه ویلي وو:
«پر ایمل کاسي مو ډېرې پیسې ورکړې، پاکیستاني جرنیلان په یو لک کلدارو خپله مور هم پلوري!»
دا رېښتیا ده؟
ښه رېښتیا، ته خو به وایې، چې ایمل کاسي خو پښتون و، زه خو پاکیستانیان ښیېم. ښه ورځه سمه ده د خپل تر ټولو مشر پوځي واکمن جنرال ضیاءالحق د وژل کېدو څېړنه مو وکړه؟
کوم چا د هغه د خرڅلاو خبره هم کړې وه.
پوځ دې هم چندان تاریخچه نه لري، تر ټوپک و اټوم ډېر په اسلامپلورنه چلېږي. که د اسلامي ایډیولوژۍ استخباراتي ډال دې تر مخ نیولی نه وي، د ۱۹۷۱ کال ۹۳۰۰۰ عسکر لوڅ لپړ تسلیمېدل دې د نړۍ د تاریخ د ترټولو ستري وسلهوالي تسلیمۍ ریکارډ ټینګ کړی دی.
تر یوه پاکیستاني ټول افغانستان مه قربانوه! او نه یې قربانولای شې، ته دومره وکړه، چې د زرګونو وژل شویو بلوڅانو ځواب یې میندو، خویندو، مېرمنو او بچو ته ووایه!
په قبایلي سیمو کې د وژل شویو، ورکو او (اغوا برای تاوان) پښتنو ځواب یې کورنیو ته ورکړه.
زه په اردو سم نه پوهېږم، سم نیمایي نفوس دې شپه و ورځ چیغې وهي، چې:
«یه جو دهشت ګردی هی، ایس کی پیچی وردی هی!»
دغه راته مانا کړه!
په انګریزي یې مانا کړه، چې دواړه پرې پوه شو، ځکه په اردو لکه چې ته هم نه پوهېږې، که پوهېدلای، نو خامخا کوم ځواب خو به دې ورکړی و.
دا کوم وردي والا ښیې؟
هغه چې خپل نیمایي نفوس یې دهشتګرد و خپل قاتل بولي، ایا هغه د خپل یوه پاکیستاني د ژوند په خاطر یو لوی افغان ملت ترې قربانولای شي؟
حیران یم حیران!
یا اعتراف وکړه، چې دا نیمایي نفوس پاکیستانیان نه دي او یا دې دغه مسخره لاپه بېرته درواخله او ځان دې خپلو خلکو ته مه شرموه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

له ايراني توغنديو خو به ځکه تېر شو، چې هلته هم بلوڅان ووژل شول ښايي هغوی تاته پاکيستانيان نه ښکاري، خو د ۲۰۱۱ کال د نومبر په ۲۶ چې امريکايي بېپيلوټو ستا ۲۴ سرتيري در ووژل، نو امريکا ته دې پورته وکتلای شول؟

ستا د تر ټولو حساسې پوځي چاونۍ په چم کې پر بن لادن د امريکا هاليوډي عملياتو کومه نړيواله يا قامي ابرو او حيثيت درپرېښود؟

په خپل ټول پوځي تاريخ کې دې لاتراوسه يوه جګړه ګټلې ده؟ ايکي يوازې يوه؟

يوازينی شهرت دې د پښتنو او بلوڅو په وژنه کې دی او خلاص.

افغانستان تر پاکيستانيو ځارول ټوکې نه دي. د ۱۹۸۰ لسيزې په دويمه نيمايي کې دې د ننګرهار جګړه په ياد ده؟ هغه مهال افغانستان يو محاصره او جګړه و ولړېځپلی هېواد و، څومره پاکيستانيان يې درووژل؟

د خپلې پياده فرقې څومره مړي دې دروړل؟ شمارلي دې وو؟

تر ۱۹۴۷ کال شاته ځکه نهځو چې ستا هويت لا زېږېدلی نه و او که نه ستا اخلافو انګريزي هيندوستانيانو ته د افغانانو کيسې معلومې دي.

چېرته مې لوستي وو، چې کلونه کلونه پاکيستاني ميندو خپل واړه ماشومان په دې کرارول، چې غلې شئ، که نه داود خان راځي.

زه پوهېږم، چې ګڼ خلک به راته وايي، چې لواړې لواړې خبرې ولې کوې؟

نو زه خو هرڅه ليدلای شم او ريښتيا پېژنم.

ننني جګړې يا په ملي لوړو ارادو کيږي يا په پيسو. چې پاکيستان همدا اوس يوه هم نه لري. ملي اراده و ولولې ځکه نه لري، چې ملت نه لري. دا د څلورو يرغمل شويو قومونو پوځي چونۍ ده، نه هېواد دی نه ملت. چې ملت نه وي، ملي غرور و انګېزه به له کومه شي؟

پيسې خو نو تاسو هم ګورئ، چې نشته. جګړه په اټوم او سرو وسپنو نه کيږي.

دلته يو ستر ملت پروت دی، چې تاريخ لري، هويت لري او پېړۍ پېړۍ يې تا ته په منسوبه جعلي جغرافيا واک چلولی دی.

ما اورېدلي و، چې پاکيستاني جنرالان د انګريزانو د لاس تعليميان دي. که د جګړو مېړنيان نه دي، خو خورا ځيرک او هوښيار وي. دې روستۍ غورې دې دا روايت هم درواغ کړ.

افغانستان پرېږده، خپل نفوس له خپلو هغو قاتلانو وژغوره، چې دا څلويښت کاله دې په خپلو استخباراتي مدرسو کې روزلي دي او سم نيمايي يې اوس هم ستا له استخباراتو تنخواه اخلي. ستا پر وګړيو هغه کسان ځانمرګي کوي، چې تا په خپلو انساني لابراتوارونو کې ماغزه ورمينځلي، د هاليوډ لوڅ لپړ فيلمونه دې ورښوول، چې نعوذبالله دا جنتي حورې درته په تمه دي. دا ځانمرګي دې خپل دي په افغانانو پورې اړه نه لري.

افغانستان هېر کړه خپلو ټاکنو ته ځير شه، چې فضل رحمان ملا ته په رايه ورکولو دې نيمايي نفوس د حوض کوثر په غاړه له پيغمبرانو سره يوځای شي (!)، له خپلو وګړيو د افغانستان قربانول هېر کړه! په خپله مقبوضه جغرافيا کې پښتانه و بلوڅ مه وژنه او که نه دا چې څه پېښيږي ورته ګورو به.

ماته خو حالات ټيک نه ښکاري جې.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ